مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اڅر

۲۰۲۴/۰۵/۰۸

# د یهودو عادلانه جګړې

(یودېرشمه برخه)



(په غزه کې ټپي ماشومان، د مور او پلار په غیږو کې.)

**د اسراییلو قوم غوره کول، مشروط پر څو دوله اطاعتونو (۱)**

**له یهوه خدای څخه اطاعت**

د اسراییلو ځانګړي او قومي خدای یهوه چې کومې ژمنې له اسراییلو سره کړې، هغه ټولې ژمنې له آره تر پایه له یهوه خدای څخه د اطاعت او د هغه د سپارښتنو د ترسره کولو او پلې کولو په بدل کې شوي دي چې له دغو ژمنو څخه د اسراییلو قوم پر نورو قومونو د غوره والي ژمنه، د فلسطین د ځمکې د ورکولو ژمنه او داسې نورې ټولې ژمنې مشروطې وې، د اسراییلو او یهوه خدای تر منځ ژمنې داسې دي چې که اسراییل خپلو ژمنو ته ژمن پاتې شول نو یهوه خدای به هم ژمن پاتې کیږي خو که اسراییلو سرغړونه وکړه نو د یهوه لخوا به له ډول، ډول سزاګانو او لعنتونو سره مخ شي چې بیا به د غوره قوم پر ځای، لعنتي، رټلی، ځناور، خابین او سپک قوم وي.

د یهودو او اسراییلو ټول پیغمبران، انبیا، پاچاهان او عام وګړي اطاعت ته رابلل شوي دي چې په هغو کې پرته له ابراهیم (ع) ، اسحاق او دوه تنو پاچاهانو:(حزقیا) او(یوشیا) څخه، پاتې ټولو پیغمبرانو او پاچاهانو (د اسراییلو د دیني سرچینو پر بنسټ) د یهوه خدای له اوامرو سرغړونې کړي او ګناهونه یې ترسره کړي دي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت ټاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

د اسراييلو سرکښی او سرغړوني خورا ډېرې او له شمېره وتلي دي خو موږ د بېلګې په توګه هغه اطاعتونه او سرغړونې په لنډه توګه راخلو چې د اسراييلو د پیغمبرانو او پاچاهانو لخوا ترسره شوي دي. لومړی د ابراهیم، اسحاق، حزقیا او یوشیا د اطاعت په اړه مالومات وړاندې کېږي چې بیا به د نورو پر نااطاعتیو رڼا واچول شي:

د یهودو تاریخ د دوی له ستر نیکه ابراهیم (ع) څخه پیل کېږي نو د دوی د غوړوالي مسئله هم د ابراهیم (ع) څخه شروع کېږي. په قرآن مجید کې د ابراهیم د غوره کولو عوامل په ډېر ښه ډول ویل شوي دي چې له آره یې د یوه خدای (ج) عبادت پیل کړی ؤ، د بتانو مخالف او هغه یې ویجاړ کړي وو خو په تورات کې د ابراهیم د غوره کولو لومړني عوامل څرګند نه دي، د یهوه خدای او ابراهیم اړیکې له هغه ځایه پیل کېږي چې ابراهیم له خپلې کورنۍ سره د (حران) په ښار کې اوسیده، نو «یهوه خدای ابرام (ابراهیم) ته وویل: خپل پلارنی ټاټوبی او خپلوان پرېږده، هغه هېواد ته ولاړ شه چې زه یې درته په ګوته کوم. زه به تا د لوی اُمت پلار وګرځوم... ابرام (پنځه‌اویا) کلن ؤ چې له حران څخه ... کنعان (فلسطین) ته کډه شو.» (د پیدایښت کتاب:۱/۱۲تر۶پورې)

وروسته له هغې چې ابراهیم د یهوه خدای سپارښتنه پلي کړه، په فلسطین کې (څلورویشت) کاله پاتې شو، په دې موده کې یهوه خدای له ابراهیم سره د فلسطین د ځمکې د ورکولو او نورې ژمنې وکړې او بیا یې یو تل‌پاتې تړون او ژمنه ورسره وکړه:«هغه مهال چې ابرام (نهه‌نوي) کلن ؤ، یهوه خدای ورڅرګند شو، ویې ویل: زه بشپړ ځواکمن خدای یم، **له ما څخه اطاعت وکړه او هغه څه چې رښتیا دي پر ځای یې کړه.** له تا سره تړون کوم چې ستا نسل به ډېر کړم.
ابرام پر خاورو پرېوت، یهوه وویل: زه له تا سره تړون کوم چې له تا څخه به ډېر قومونه رامنځ ته کړم. وروسته له دې به ستا نوم (ابرام) [1] نه وي، بلکې (ابراهیم) [2] به وي ځکه چې زه تا د ډېرو قومونو پلار جوړوم، ستا نسل به زیات کړم چې له هغوی څخه به ولسونه او پاچاهان رامنځته کړم. زه خپل تړون تل‌ترتله له تا او وروسته له تا، ستا له زامنو او هر نسل سره ټینګ ساتم، زه ستا خدای یم او ستا د زامنو خدای به هم وم. د کنعان ټول هېواد (چې اوس ته په کې غریب یې) تر ابده تا او ستا نسل ته بښم او زه به د هغوی خدای وم.
یهوه خدای وویل: ستا او ستا د زامنو او وروسته نسلو دنده دا ده چې **زما عهد وساتئ.** ستاسو ټول سړي او هلکان باید ختنه شي چې په دې توګه ښکاره کړي **چې زما عهد یې منلی دی.»** (پیدایښت:۱/۱۷تر۱۱پورې)
هغه مهال چې ابراهیم (ع) د یهوه خدای لخوا لا هم د ازموینو په حال کې ؤ، هغه یې د خپلې کورنۍ د پوهولو په موخه ګومارلی ؤ چې د یهوه اطاعت او د هغه غوښتنې پر ځای کړي، په دې هکله یهوه خدای وایي:«ما هغه (ابراهیم) غوره کړی دی چې خپلو زامنو او کورنۍ ته ښوونه وکړي **چې زما اطاعت وکړي، هغه څه چې رښتیا او سم دي پر ځای یې کړي. که داسې یې وکړل، نو زه به هم هغه ژمنه چې له ده سره مې کړې، ترسره کړم.»** (هماغه کتاب:۱۹/۱۸)

په تېره لیکنه کې د ابراهیم د یوې سختې ازموینې په اړه یادونه شوې وه چې ابراهیم په خپلو ټولو ورسپارل شویو چارو کې بریالی ؤ او د خپل یوازیني زوی په ذبحه کولو هم وازمایل شو، یهوه خدای د ابراهیم د دا ډول ناشوني اطاعت په هکله وایي:«... په خپل ذات باندې لوړه کوم چې **تا زما د [امر] اطاعت وکړ** او یوازینی زوی دې له ما څخه ونه سپماوه نو داسې برکت به درکړم چې ستا توکم د آسمان د ستورو او د سیند د شګو په څېر بې‌شمېره ډېر شي، هغوی به پر خپلو دښمنانو بریالي وي او د ټولې نړۍ د قومونو د برکت سبب به وګرځي **ځکه چې تا زما [د امر] اطاعت کړی دی.»** (هماغه:۱۶/۲۲تر۱۸پورې)

له ابراهیم وروسته د هغه زوی اسحاق د خپل پلار په څېر یوازې د خپلې کورنۍ لارښود پیغمبر ؤ او پرته له خپلې کورنۍ یې نورو قومونو ته (چې اسحاق له هغوی سره استوګن ؤ) د یهوه خدای لخوا کوم پیغام نه دی رسولی او یهوه خدای هم نورو قومونو ته څه پیغام نه درلود ځکه چې یهوه د ابراهیم د کورنۍ ځانګړی خدای ؤ. اسحاق د اسراییلو د نورو پیغمبرانو په څېر له ډېرو پېښو سره نه دی مخ شوی. د یهودو په دیني سرچینو کې اسحاق لکه د نورو پیغمبرانو په شان په ښکاره نااطاعتۍ یا په ډېرو ناوړه تورونو نه دی تورن شوی خو په درواغ ویلو یې تورن کړی دی. هغه مهال چې اسحاق د فلسطین د (جرار) په سیمه کې اوسیده د خپل پلار ابراهیم[3] په څېر یې د مرګ له وېرې د خپلې ښځې

---

[1]: ابرام د بریالي پلار مانا لري.
[2]: ابراهیم، یاني د قومونو پلار.
[3]: یهودو ته د خپلو پلرونو او پیغمبرانو رټل او سپکول یو عادي کار ښکاري، دوی خپل ټول مشران او پیغبران په ډول، ډول ناروا کړنو تورن کړي چې په سر کې یې خپل ستر نیکه ابراهیم (ع) هم په یو ډول بې‌غیرتۍ تورن کړی

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

(ربکا) په اړه درواغ ویلي چې ګواکې هغه يې خور ده:«نو اسحاق په جرار کې پاتې شو، کله چې په هغه ځای کې خلکو له اسحاق څخه د ربکا په اړه پوښتنه وکړه، نو ده وویل:**«هغه زما خور ده.»** هغه په وېره کې ؤ چې که ووايي: هغه زما ښځه ده، نو د ربکا د ترلاسه کولو له امله به يې ووژني، ځکه چې ربکا ډېره ښايسته ښځه وه.»
(هماغه:۶/۲۶تر۸پورې)

د اسراييلو له پرهېزګارانو او منونکو پاچاهانو څخه د يهودا پاچا (حزقيا) او بل هم (يوشيا) ؤ چې د اسراييلو د بتانو بت‌تونونه يې ويجاړ او هغه فلزي منګور چې د موسى لخوا جوړ شوی ؤ او اسراييلو لمانځه، هم مات کړ او هغه لوښي چې د بعل او اشيره بتانو او لمر، سپوږمۍ او ستورو د لمانځلو لپاره کارول کېدل له منځه يووړل. (د ډېرو مالوماتو لپاره د ليکنو د لړۍ (۲۳مه) برخه ولولئ.)

د اسحاق له مړينې وروسته د هغه زوی يعقوب د خپل پلار او نيکه په څېر د خپلې کورنۍ پيغمبر ؤ، داسې ښکاري چې يعقوب خپله کورنۍ هم سمې لارې ته نه وه راوستلې، د ده زامنو خپل ورور يوسف پر مصري سوداګرو وپلوره او د يعقوب مشر زوی (ريوبين) د خپل پلار له مينځې سره زنا وکړه. هغه د مور په څېر کې له خپل غبرګوني ورور عيسو سره په لغتو وهل، يعقوب له خپل پلار او ورور سره درواغ ويلي او هغوی يې غولولي دي، له يهوه خدای سره يې زور ازمويلی او غېږه يې ورسره نيولې ده چې دا ډول کړنې له رښتينې پيغمبر سره نه ښايي او د رښتيني لوی څښتن څخه ښکاره نااطاعتي دي.

د يعقوب زوی يوسف (ع) د ډېرو ښو اخلاقو او لوړ فکر څښتن ؤ، يوسف په ماشومتوب کې خپلو ورونو څاه (کوهي) ته غورځولی ؤ او بيا يې پر مصري سوداګرو پلورلی ؤ، نوموړی د خپلې پوهې له امله، د مصر په دربار کې د درناوي او لوړ مقام څښتن شو، يوسف خپل خايين ورونه وبښل او مرستې يې هم ورسره وکړې. يوسف د مصر د لوی کاهن (چې بت‌پرست ؤ) له لور سره واده کړی ؤ چې له غيريهودي او بت‌پرستې ښځې سره واده کول د يهودو د قوم او دين خلاف عمل ؤ.

د يوسف پلار، ورونه او د دوی کورنۍ چې شمېر يې (اويا) تنو ته رسيده، له کنعان څخه د وچکالۍ له امله مصر ته کډه شول چې وروسته له دې د يوسف او موسى تر منځ د اسراييلو حالات نامالوم دي چې په دې منځ کې (څلورسوه دېرش)[4] کلونه تېر‌يږي، په دغه موده کې د يعقوب اولاده چې اسراييل يې بولي، (د تورات پر بنسټ زرګونو کسانو ته رسيږي.) چې په دې اوږده موده کې په اسراييلو کې کوم لارښود پيغمبر نه دی څرګند شوی او د اسراييلو ټول قوم د خپل قومي خدای يهوه او خپلو پلرونو ګروهې هېرې کړې او د مصريانو په څېر بت‌پرست شوي دي. داسې ښکاري چې د اسراييلو د شرارتونو له کبله (چې شر او فساد يې فطرتي دی) د مصر د پاچاهانو (فرعونيانو) لخوا تر غلامۍ او ځورونو لاندې راغلي وي. هغه وو چې د دوی د ژغورنې په موخه د دوی قومي خدای يهوه، موسى[5] مصر ته لېږي چې له دې وروسته يهود د يوې کورنۍ په توګه نه، بلکې د يو قوم په توګه په ديني سرچينو کې ياد شوی دی.

---

دی، د يهودانو په تورات کې راغلي «هغه مهال چې ابراهيم د (جرار) [فلسطين] په ښار کې ؤ، نو خپله ښځه (ساره) يې خور معرفي کړه، هغه وو چې د جرار پاچا (ابيملک) خپل کسان ولېږل او ساره يې د هغه ماڼۍ ته وروستله خو هماغه شپه يهوه خدای ابيملک ته په خوب کې ورښکاره شو ويې ويل: ته به ومرې، ځکه چې مېړوښه ښځه دې راوستلې ده. (ابيملک لا د هغې سره يو ځای شوی نه ؤ) نو ويې ويل: خدايه! زه خو بې‌ګناه يم، ته ما او زما قوم وژنې؟ ماته خو په‌خپله ابراهيم وويل چې هغه يې خور ده او ساره هم د هغه خبره تاييد کړه.» (د پيداېښت کتاب:۲/۲۰تر۵پورې)
همدا ډول په مصر کې ابراهيم د خپل ځان له وېرې او مالي ګټې په موخه خپله ښځه (سارا) خور بللې وه او فرعون هغه خپلې ماڼۍ ته بيولې وه. (د ډېرو مالوماتو لپاره د ليکنو (۲۱مه برخه) ولولئ.)

[4]: د هجرت کتاب:۴۰/۱۲-۴۱.

[5]: موسى د مصر د فرعون په کور کې لوی شوی ؤ، هغه له آره د خپل قوم اسراييلو خواخوږی ؤ، د هغه لومړنۍ خواخوږي له خپل قوم سره د يو غيريهودي مصري وژل وو، وايي چې «... يوه ورځ موسى د خپل قوم عبرانيانو [اسراييلو] د ليدلو په موخه اړونده سيمې ته ولاړ. هغه مهال چې دی د عبرانيانو د سختو کارونو په ننداره ؤ، ويې ليدل چې يو تن مصری يو عبراني ته وهل ټکول ورکوي نو خپل شاوخوا يې وکتل چې څوک نه شته، نو هغه مصری وکړی يې وواژه او د هغه مړی يې د شګو لاندې ښخ کړ. يوه ورځ وروسته موسى بيا د خپل قوم ليدلو ته وخوځيد،


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پاړوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

هغه مهال چې يهوه خدای موسی او هارون د مصر فرعون ته د اسراييلو د قوم د ژغورلو په موخه واستول نو يهوه په هغه پيغام چې فرعون ته يې ليږلی ؤ دا ويلي وو چې **«زما قوم پرېږده چې دښتې ته ولاړ شي او زما عبادت وکړي.»**[6] ، له دې څخه څرګندېږي چې يهوه خدای لا له وړاندې پر اسراييلو باندې د عبادت د شرط نيت درلود چې وروسته د عبادت له شرط سره نور ډېر شرطونه يو ځای کيږي.

يهوه خدای د موسی په منځګړيتوب اسراييلو ته د اطاعت په تړاؤ پرلهپسې پيغامونه ورسول:«... يهوه خدای د غره له منځه موسی ته وويل:«زما اوامر بني اسراييلو ته ورکړه او ورته ووايه: تاسو وليدل چې ما له مصريانو سره څه وکړل. لکه څه ډول چې عقاب خپل بچيان پر خپلو وزرونو باندې وړي، داسې مې تاسو پورته کړې له ځان سره مې راوړې. **اوس که زما منونکي واوسئ او زما عهد وساتئ** نو تاسو به د ټولو قومونو له منځه زما ځانګړی قوم وئ. سره له دې چې ټوله نړۍ زما ده خو تاسو به زما سپيڅلی ملت وئ او د کاهنانو په څېر به زما خدمت وکړئ.» (د هجرت کتاب:۱۹/۳تر۶پورې)

موسی وويل:**«که د خپل خدای يهوه اوامر ومنئ او د هغه پر لار ولاړ شئ،** هغه به هم لکه څرنګه چې ژمنه يې کړې ده، تاسو خپل سپيڅلی قوم جوړ کړي، هغه مهال به د نړۍ ټول وګړي وګوري چې تاسو د يهوه خدای ځانګړی قوم ياست او له تاسو به وډار شي.» (د ګردان کتاب:۹/۲۸-۱۰)

«يهوه خدای نن ورځ د خپلې ژمنې سره سم اعلان کړی دی چې تاسو د هغه ځانګړی قوم ياست، **بايد د هغه ټول قوانين پلي کړئ، که د هغه احکام پر ځای کړی،** نو هغه به تاسو له ټولو قومونو څخه لوی کړي، اجازه به درکړي چې عزت، درناوی او شهرت ترلاسه کړئ خو د دغه عزت او درناوي د ترلاسه کولو لپاره **بايد تاسو د هغه [يهوه] سپيڅلی قوم واوسئ.»** (ګردان:۲۶/۱۸-۱۹)

«نو پوه شئ چې يوازې يهوه خدای چې موجود دی ستاسو خدای دی او هغه هماغه امين خدای دی چې ستاسو تر زرو پښتونو پورې خپلې ژمنې ساتي، **ورسره هغوی چې له ده سره مينه لري او د ده د اوامرو اطاعت کوي له هغوی سره مينه کوي** خو هغوی چې له ده څخه کرکه کوي، په چټکۍ سره سزا ورکوي او له منځه يې وړي. په دې بنسټ ټول دغه فرمانونه چې نن يې زه درکوم پلي کړئ. که دغو فرمانونو ته مو پام وکړ او اطاعت وکړئ، يهوه خدای به هغه ژمنه چې د خپل رحمت له مخې يې ستاسو له پلرونو سره کړې ده، پلي کړي.» (ګردان:۷/۹تر۱۲پورې)

په قرآن کريم کې د هغې زمانې اسراييلو ته ويل شوي چې خپلې ژمنې ترسره کړي او کومې دندې او سپارښتنې چې الله تعالی اسراييلو ته سپارلې وې بايد په ښه توګه يې پلي کړي، بيا به لوی څښتن الله (ج) له اسراييلو سره خپلې ژمنې عملي کړي، نو هله به اسراييل رښتيني غوره قوم شوی وای:

**﴿يَـٰبَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ٱذْكُرُوا۟ نِعْمَتِىَ ٱلَّتِىٓ أَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ وَأَوْفُوا۟ بِعَهْدِىٓ أُوفِ بِعَهْدِكُمْ وَإِيَّـٰىَ فَٱرْهَبُونِ﴾**

ژباړه:«ای بني اسراييلو! هغه نعمتونه درياد کړئ چې پر تاسو مې لورولي وو **او له ما سره مو چې کوم تړون او ژمنه کړي وه، ترسره يې کړئ او زه به هم پر خپله ژمنه او تړون وفا وکړم.** يوازې له ما څخه وډار شئ.» (د بقرې سورت:۴۰آيت)

---

دا ځل يې دو تنه عبرانيان وليدل چې سره نښتي دي، موسی وړاندې ولاړ او هغه زورور کس ته يې وويل:«ولې خپل ورور وهې؟» (هجرت:۲/۱۱تر۱۳پورې)

[6]: د هجرت کتاب:۵/۱.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ



نېټه:۱۴۰۳/۲/۱۸ل. ل

**نور بیا**

د ښاغلي محمد انور اثېر نوري ليکنې په دې لينک کې ولولئ.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ